


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا

د نشر نېټه : ۱۴ اګست ۲۰۱۳ ميلادی

# د اسد دانش صيب ځواني مرګ زوی
# حسيب الله په مرګ کې!



يو سرې په سرو سرو ژاړي
له دوو تکو تورو غرو نه يې بهيږي

څو د اوښکو سپین رودونه
پریشان دی د هجران لمبو اخیستی

په زړګي کې یې ټوکیږي د بچي د یاد ګلونه
خپل خپلوان یې کوي ویر په اضطراب دي

ربه ج دا دې چي اخته په کوم عذاب دي
ډیره سخته ده چي زوی د چا مړکیږي

د خپل پلار له غیږې شلیږي فنا کیږي
مرګ خو حق دی دا منمه

مور به هم ځو
قافله د ژوند روانه ده تیریږي

باور وکړئ وه یارانو باور وکړئ
د ځوانۍ مرګ بلا سخت وي

په ګلاب د چا زړه نه شي چي رژیږي
یو سړی په سرو سرو ژاړي

له دوو تکو تورو غرو نه یې بهیږي
څو د اوښکو سپین رودونه

دا سړی داسي سړی دی
چي د هر زړګي درمان دی

ټول یاران یې لالا بولي
خو نامه یې اسد جان دی

خدای ج دې نه کړي چي یو څوک دې بې اثري شي
دې حالت سره چي مخ شم دا ټپه زما تر خولي شي

وروکی یار د چا مړ مه شه
وروکی یار د زړګي ولې نړوینه

****
فرید احمد « تسکین »

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org

هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم مولانا سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است